مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

درېیم کال، پنځم او شپږم شمېرې، پسرلی ۱۳۹۲ هـ.ش

# د استبداد او استعمار پر ضد د سید جمال الدین افغانی مبارزه

# Sayyid Jamal-ud-Din Afghani's Struggles against Tyranny and Colonialism

DOI: 10.64104/v3.Issue5-6.n5.2014

پوهنوال دکتور مصباح الله عبدالباقی[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

## لنډیز

سید جمال‌الدین افغان د معاصرې تاریخ له هغو شخصیتونو څخه دی چې په نړۍ کې یې لوی اغیز درلود. دغه اغیزې د هغه د نه ستړې کیدونکو مبارزو او هڅو له امله وې چې د ظلم او استعماري ځواکونو پر ضد یې کړې. د ظلم او استعماري ځواکونو پر ضد مبارزه د سید جمال‌الدین د ژوند تر ټولو څرګنده ځانګړتیا ده؛ د هغه ژوند هیڅه شیبه له دې مبارزو پرته نه وه. د هغه مبارزې په فکري او عملي برخو کې وې. فکري مبارزه یې له افغانستان څخه پیل شوه، هند او ترکیې ته ادامه ومونده او په مصر کې یې اوج ته ورسېده. حتی په اروپا کې یې هم د ظلم پر ضد مبارزه وکړه او خپل زیات وخت د ختیځ د هڅولو په برخه کې تېر کړ. په عملي برخو کې، هغه له بېلابېلو وسایلو کار واخیست لکه له خلکو سره اړیکې، د رسنیو سازمانونو سره اړیکې، سیاسي ګوندونه جوړول، شخصیتونه او مشران روزل او تعلیم ورکول د واکمنانو د بدیل په توګه. د افغاني په فطري ځانګړتیاوو لکه صبر او ټینګښت، زړورتیا او د دنیاوي مقامونو نه لېوالتیا، په هغه مبارزو کې لوی رول درلود.

**کلیدي کلیمې: استبداد، استعمار، سید جمال الدین افغانی، مبارزه**

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)

د خپریدو نیټه: ۱۳۹۲/۰۳/۱۵    پاڼې: ۱۴    د ۷۱ څخه تر ۸۴ پورې

[1]. استاد پوهنځی شرعیات و معاون علمی پوهنتون سلام، 93771694474+، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

## مقدمه

### استبداد څه ته وايي؟

عبد الرحمن الكواكبی په خپل يو ډير پياوړي كتاب (طبائع الاستبداد ومصارع الاستعباد) كی د استبداد تعريف داسی كوي: (استبداد په خپلی رأی د انسان مغروريدلو، او د نصيحت د منلو څخه د ځان لوړ ګڼلو، د ګډو حقوقو او رأی په اړه ځان مستقل ګڼلو ته ويل كيږي) او وايي چی كله استبداد مطلق ذكر شي نو له هغه څخه د حكومتونو استبداد مراد وي، ځكه چی د هغه تاوانونه دومره زيات او څرګند دي چی د ټولو ژونديو مخلوقاتو تر منځ د انسان څخه تر ټولو بد بخته او شقی مخلوق جوړوي.

د سياست په اصطلاح كی استبداد د كواكبی له نظره دی ته ويل كيږي چی يو فرد او يا يوه مجموعه د ملت د حقوقو او د رعيت سره اړونده كارونو كی د خپلی خوښی (نه د عدل او شوری) پر بنسټ هر ډول تصرف وكړي، او د نتائجو، محاسبی او جزاء هيڅ ويره ورسره نه وي.

كواكبی د خپل وخت ټولنی د استبداد له پلوه په دوه ډوله ويشي، يو هغه ټولنې دي چی په هغه كی حكومت په خپلو تصرفاتو كی د نظام په كوم ټاكلی شكل ځان مكلف نه ګڼي، د بيلګی په توګه نه ځان د كوم شريعت په تطبيق مكلف ګڼي، نه د كوم تقليدی طرز حكومت څخه تقليد كوي او نه د ملت اراده د ځان لپاره مثال ګڼي، دی ته (مطلق العنان) يا (بی واګی) حكومتونه ويل كيږي، او بل هغه ټولنی دي چی په هغه كی خو په ښكاره حكومت د پورتنيو اشكالو څخه په يو شكل ځان مكلف ګڼي او د هماغی پر بنسټ خپل قدرت او صلاحيت مقيد ګڼي مګر د خپل نفوذ او تسلط له امله د هغه قيد اثر له منځه وړي او هغه څه كوي چی زړه يې غواړي، په دی كی اوسنۍ ټولی مشروطه بادشاهۍ او جمهوري حكومتونه شامل دي[2].

په دی توګه د عبد الرحمن كواكبي له نظره هغه ټول حكومتونه چی ځان ته جمهوري حكومتونه وايي مګر يواځی ښكاره بڼه خو يې د جمهوريت وي، مګر د شورائيت روح تری غائب وي، او يا د جمهوريت په نوم پكښی د يو حزب ديكتاتوري حاكمه وي، هغه هم په حقيقت كی استبدادي حكومتونه دي.

بيا وايې:د ديكتاتور او استبدادي حكومت ټولی برخی پر استبداد ولاړی وي، د لوی مستبد (دنظام د مشر) څخه نيولی تر يو پوليس، او د دفتر يو پياده، بلكه تر هغه چا پوری چی په دی حكومت كی لاری او كوڅی جارو كوي ټول مستبدين او ديكتاتوران وي، او دا ټول په اخلاقی لحاظ د خپلی طبقی د سپكو او پريوتو خلكو له جملی څخه وي.

دی پريوتو او سپكو خلكو ته عزت، احترام، او ښه شهرت مهم نه وي، د دوي د ټولو كوښښونو تر ټولو لوی هدف دا وي چی خپل مخدوم، مشر او حاكم ته دا ثابته كړي چی موږ ستا په څير يو! او ستا د چوكۍ خادمان او ساتونكی يو! په دی توګه ديكتاتور له دوي څخه ځان په امن كی ګڼي او دوي د ديكتاتور څخه ځان په امن كی محسوسوي، او په دی توګه يو د بل سره په ګټو او مفاداتو كی شريک وي، د استبداد دا خدمتګاره ډله د استبداد د شدت د كموالی او زياتوالی په تناسب كميږي او زياتيږي[3].

---

[2]- طبائع الاستبداد ومصارع الاستعباد (ص: ١٧- ١٨) د عبد الرحمن الكواكبی ليكنه، المطبعة العصرية – حلب، سورية.

[3]- طبائع الاستبداد ومصارع الاستعباد (ص: 69) د عبد الرحمن الكواكبی ليكنه، مخكينی مرجع.

د سید جمال الدین افغانی د مدرسې یو شاګرد محمد عماره په لږ وضاحت سره د استبداد تعریف داسې کوي: (د قوت، حاکمیت او واک د استعمال، او د رعیت سره د تعامل په هره سویه کې (د کورنۍ نه نیولې تر حکومت پورې) او په هر میدان کې (د فیصلې نه نیولې تر مال او ثروت پورې) ټول واک او ځواک په خپل لاس کې ساتلو ته استبداد ویل کیږي). په همدې مفهوم سید جمال الدین د استبداد سره مبارزه او مقاومت کړی دی.

**استعمار څه ته وایي؟**

استعمار خو په لغت کې د یو څه د ابادولو هڅې او غوښتنې ته ویل کیږي لکه الله تعالی چې په قران کریم کې فرمایي: {هُوَ أَنْشَأَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا} [هود: 61] الله تعالی تاسې د مځکې څخه پیدا کړي اوسې او ددې مځکې د تعمیر غوښتنه یې در څخه کړې ده[4] .

او په اصطلاح کې دې ته ویل کیږي چې یو ملت پر بل ملت باندې د هغه د ثروتونو د لوټولو، د هغه دمځکې څخه د ناوړه استفادې او د هغه د افرادو صلاحیتونه د استعمارونکي ملت د ګټو د ساتلو لپاره د تسخیر په موخه د عسکري قوت او زور په مټو مسلط شي، او دهغه مستعمره شوی ملت ازادۍ یا په بشپړ ډول له منځه یوسي او یا یې د هغوي له خوښې پرته محدودې کړي[5].

د استعمار سره همیشه دا مل وي چې استعماري قوتونه د مستعمره شوي ملت په اړه داسې لازم تدبیرونه نیسي او پلانونه جوړوي چې هغه د خپل دین، ارزښتونو، اصولو، او سالمو عنعناتو څخه واړوي، او ددې شیانو پرېښودلو ته یې اړ کړي، په ځانګړې توګه کله چې د مستعمره کونکې ځواک او استعمار شوي ملت د دین، مفاهیمو، ارزښتونو، اصولو او عنعناتو ترمنځ تفاوت وجود ولري.

**د استعمار او استبداد پر ضد مبارزه ولې اړینه ده؟**

ټول انسانان الله تعالی ازاد پیدا کړي دي، هغوي ته یې د مسؤولیتونو ترڅنګ حقوق هم ورکړي دي، ددې حقوقو څخه د انسان محروموول په حقیقت کې ددې ازادۍ څخه د انسان محروموول دي چې هغه د انسانیت جوهر او بنسټ دی، کله چې د انسان څخه دا ازادي سلب شي د هغه حیثیت د یو څاروي څخه زیات نه وي، او د استبداد او استعمار په نتیجه کې د انسانیت دا جوهر چې ازادي ده په بشپړه توګه له منځه ځي، نو هر هغه څوک چې د استعمار او استبداد دا حقیقت درک کړي هغه هیڅکله هم ددې توهین او تحقیر په مقابل کې پټه خوله نشي پاتې کیدلی، او سید جمال الدین افغاني دا حقیقت ډېر په عمیقه توګه درک کړی وه.

**د استبداد پر ضد د جمال الدین افغان مبارزه**

حقیقت دا دی چې د سید جمال الدین افغان ټول ژوند د هغه اصولو، ارزښتونو او مبادئو څخه د دفاع لپاره تیر شوی چې هغه پرې ایمان درلود، او ددې اصولو څخه یو اصل دا وه چې هیڅ یو هیواد او هیڅ یو ملت د استبداد د سیوري لاندې پرمختګ نه شي کولی.

[4] - وګورئ: د (واستعمرکم فیها) بیلا بیلې معناګانې شوې دي، دا معنی یې په تفسیر النسفي ( مدارك التنزيل وحقائق التأويل) (2/ 69) امام نسفي غوره کړې ده.

[5] - وګورئ د عبد الرحمن حسن حبنكة الميداني كتاب (اجنحة المكر الثلاثة وخوافيها التبشير، الاستشراق، الاستعمار دراسة وتحليل وتوجيه) ص ۵۴، اتم چاپ، دار القلم ، دمشق، د چاپ کال:۱۴۲۰هـ ش ۲۰۰۰م

سید جمال الدین په دی اړه وایي: (مصر او په ختیځ کی هیڅ یو هیواد او یو امارت تر هغه وخته پوری ژوندی نشي پاتی کیدلی تر څو چی ددی هر یو لپاره الله تعالی داسی یو قوي او عادل انسان مهیا نه کړي چی دا هیوادونه د هغه د وګړو له لاری اداره کړي، نه دا چی ټول زور او ځواک په خپل ځان او شخص کی متمرکز کړي، ځکه چی مطلق ځواک او ټول واک او صلاحیت په ځان کی متمرکز کول استبداد زیږوي، او عدل یواځی هغه وخت راتللی شي چی د حاکم ځواک او واک د قانون له لاری مقید او کنترول شي، (هر هیواد د خپلو وګړو له لاری اداره کولو او په حکومت کی د هغوي د شریکولو) څخه می هدف دا دی چی ټول خلک په یو داسی صحیح او درست حکومت کی شریک کړی شي چی هغه د هیواد د اساسي قانون پر بنسټ منځ ته راغلی وي.

بیا وایي: عموما صحیح مشروطه حکومت هغه بادشاه سره نشي چلیدلی چی د استبداد خوند یې څکلی وي، ځکه کله چی پارلمان او د ملت نمائندګان د هغه د ارادی مخالفت وکړي، او یا د هغه د خواهشاتو په وړاندی خنډ واقع شي نو دا پری ډیره سخته تمامیږي، له دی امله ما وویل: (چی الله تعالی یو داسی قوی او عادل انسان د مصر او د شرقي هیوادونو د اداری او حکومت لپاره مهیا کړي چی دا هیوادونه د هغه د وګړو له لاری اداره کړي).

داسی انسان به یا موجود وي او یا به یې ملت را پیدا کوي او په دی شرط به ورته حکومت سپاري چی هغه به ددی ملت د اساسي قانون تابع او امین وي، او د همدی قسم پر بنسټ به د هغه پر سر تاج ږدي، او اعلان به کوي چی د حکومت تاج به ددی پر سر تر هغه وخت پوری پاتی کیږي تر څو چی دا د اساسی قانون ساتونکی او امین پاتی وي، او کله یې چی هم خپل قسم مات کړ، او د ملت د اساسي قانون سره یې خیانت وکړ نو بیا به یې یا سر بی تاجه پاتی کیږي (عزل کیږي به) او یا به یې تاج بی سره پاتی کیږي (سر به غوڅیږي او وژل کیږي به).

سید جمال الدین افغان د ازادۍ د لاسته راوړلو او استبداد څخه د ځان خلاصولو په لار کی د قربانۍ او وینو تویدل هم ضروري ګڼي، او تصور یې دا دی چی دا لوی نعمت د قربانیو د ورکولو څخه پرته نه شي ترلاسه کیدلی، هغه وایي: که چیرته دا خبره درسته وي چی یو شمیر شیان داسی دي چی هغه ورکول کیږي نه بلکه اخیستل کیږي نو ددی شیانو له جملی څخه مهمترین یي (داستبداد څخه ازادي) او (د استعمار څخه استقلال) دی، ځکه پادشاهان او هغه څوک چی په ملتونو مسلط وي په خپله خوښه ملتونو ته حقیقي ازادي نه ورکوي، او همدا راز استقلال هم دی، بلکه دا دوه نعمتونه داسی دي چی په ماضی کی هم د قوت او ځواک له لاری ترلاسه شوي، او په راتلونکی کی هم په زور، قوت او ځواک سره تر لاسه کیږي، دا به هغه وخت ترلاسه کیږی چی د ملت د باهمته، ظلم ته د سر ټیټولو څخه انکاري او امانتدارو بچیانو د وینو په ذریعه ددی څخه خاوری او ګرد لیری کړی شي (یعنی چی د ملت دا بچیان په دی لار کی قرباني ورکړي او خپلی وینی توی کړي).

بیا د قانون پر بنسټ ولاړ او استبدادي حکومتونو ترمنځ پرتله کوي او وایي چی د قانون پر بنسټ ولاړ حکومت کی د پادشاه ترڅنګ د ملت ټول وګړي، او په ځانګړی توګه د ملت نمائندګان په ډیر اخلاص او محبت سره د هغه حکومت د ساتلو، د هغه څخه د دفاع کولو او هغه ته د پرمختګ ورکولو لپاره هر ډول قربانۍ ته اماده او چمتو وي چی دوي پکی د دستور له مخی شریک کړی شوي وي، خو په استبدادي حکومت کی دا کار بیا یواځی د پادشاه (او یا د هر بل دکتاتور) پر

غاړه وي[6].

په نظري لحاظ د استبداد پر ضد د سيد جمال الدين افغاني د ليکنو څخه استشهاد او استدلال ته ډيره اړتيا نه ليدل کيږي ځکه د هغه ټولې ليکنې او تحريرونه د همدې مرض د علاج په چاپيريال راڅرخيږي، هغه په بيلا بيلو مجلو او مطبوعاتو کې په ګڼ شمير مضامين ليکلي، تقريرونه يې کړي، تر څو خلک د استبداد پر ضد را وينښ کړي، ځکه د سيد جمال الدين افغاني د فکر محوري او بنسټيزه مسأله د شرقي هيوادونو او په ځانګړې توګه د اسلامي هيوادونو د وروسته پاتي والی د ستونزی معالجه ده، او د هغه د ليکنو څخه څرګنديږي چې ددی وروسته پاتي والي اسباب او لاملونه د هغه په اند په لاندی شيانو کې را خلاصه کيږي، چې په دی کی هم څه شيان د نورو لاملونه او اسباب دي او څه بيا د نورو اثرات دي:

1. د اسلامي امت ترمنځ اختلاف او تشتت، چې علاج يې په وحدت کی دی.
2. د علم څخه ليری والی، چې علاج يې د امت په علمي اړخ باندی په اهتمام کی نغښتی دی.
3. په شرقي او اسلامي نړۍ کی استبداد او د مطلق العنان حکومتونو موجوديت، چې علاج يې د هغه له نظره د داسی قانونمندو حکومتونو په رامنځ ته کولو کی دی چې ملتونه پکی شريک وي، او د داسی اساسي قانون پر بنسټ ولاړ وي چې پکښی د حاکم او رعيت ټول حقوق او صلاحيتونه ټاکل شوی وي.
4. په اسلامي نړۍ کی د استعمار موجوديت او په ځانګړې توګه برتانوي انګريزی استعمار موجوديت.

**يوه غلط فهمي او دهغه تصحيح**

د سيد جمال الدين افغاني څخه يوه خبره خلک نقل کوي او ډير شهرت يې هم موندلی چې هغه ويلي دي: (يحتاج الشرق الی مستبد عادل) يعنی شرق يو عادل مستبد ته اړتيا لري، طبعا دا خبره عجيبه ښکاري چې سيد جمال الدين افغان دی د استبدادي حکومت منلو ته ذهنيتونه تيار کړي، له همدی امله د هغه شاګرد محمد باشا مخزومي د هغه د خاطراتو راټولونکی وايي: موږ تری پوښتنه وکړه چې ستا له خولی په خلکو کی مشهوره ده چې تا ويلې دي چې شرق يو مستبد عادل ته اړتيا لري، هغه وويل: دا دواړه يو دبل ضد دي، او ضدين خو سره نشي يوځای کيدلی، دا څنګه ممکن ده چې عدل او استبداد سره جمع شي، د يو حاکم لپاره بهترين صفات (عدل او قوت) دی، عادل ضعيف کی خير نشته لکه څرنګه چې په قوي ظالم کی خير نشته[7]. بناء دا خبره د سيد جمال الدين څخه ثابته نه ده، دا ورپسی چا جوړه کړی ده چې هيڅ حقيقت نه لري.

**د استبداد پر ضد عملي مبارزه**

په نظري توګه د استبداد پر ضد د مبارزی تر څنګ سيد جمال الدين افغان خپل ټول ژوند په عملي توګه د استبداد پر ضد په مبارزه کی تير کړی دی، دا مبارزه د هغه پر ټول ژوند محيطه ده، خو موږ يې د بيلګی په توګه څو نمونی لوستونکو ته وړاندی کوو:

---

[6] - ددی افکارو لپاره وګوری د سيد جمال الدين افغان خاطرات ټولګه: محمد باشا المخزومي په عربي ژبه ص ۸۲- ۸۴، د الأعمال الکاملة شپږم ټوک، اعداد وتقديم: سيد هادي خسرو شاهي، لومړی طبعه کال: ۲۰۰۲م ـ ۱۴۲۳هـ ش، مکتبة الشروق الدولية ـ القاهرة، کوالالمپور، لاس انجلس.

[7] - خاطرات ۸۳ مخکينی مصدر.

**په افغانستان کی:**

کله چی په کال ۱۸٦۳م کی د امیر دوست محمد خان د مرگ څخه وروسته د هغه د زامنو ترمنځ د حکومت پر سر شخړی راپورته شوی، له یوی خوا محمد اعظم خان وه چی د سید جمال الدین افغاني په کوچنیوالي کی د هغه اتالیق او معلم پاتی شوی وه، او بل لور ته امیر شیر علی خان وه، سره له دی چی سید جمال الدین افغاني په افغانستان کی د یو متحد دولت پلوي وه، او له همدی امله يې سردار محمد اعظم خان دی ته وهڅاوه چی په هرات کی د هغه د پلار امیر دوست محمد خان د وفات نه وروسته د خپل کشر ورور امیر شیرعلي خان سره بیعت وکړي، مگر کله چی په کال ۱۸٦۸م کی امیر شیرعلي خان وتوانید چی خپل مخالفین د صحنی څخه لیری کړي، ملوک الطوائفی له منځه یوسي، او د قدرت ټولو دعویدارانو ته شکست ورکړي، او ددی فرصت لاس ته راوړي چی په افغانستان کی اصلاحات رامنځ ته کړي، په دی وخت کی د یو شمیر مغرضو خلکو په لمسونه امیر شیر علي خان د سید جمال الدین په اړه بد گمانه کړی شو، په دی لړ کی یو شمیر خلکو امیر شیرعلی خان دی ته وهڅاوه چی جمال الدین افغان ته نوره په افغانستان کی د اوسیدو اجازه ورنکړي، ځکه هغه ـ د هغوي د وینا سره سم ـ د محمد اعظم خان چی ایران ته تبنتیدلی وه د ملگرو د راټولیدلو لپاره محور جوړیدلی شي، کله چی سید جمال الدین افغاني د امیر شیر علي خان دا رغبت ولیده نو پریکړه يې وکړه چی له افغانستان څخه بیرون ووځي، خو هند ته د تللو نه مخکی يې د حکومت د اصلاح کومه نقشه چی د هغه په ذهن کی وه چی هغه په یو لاس کی د قدرت د راجمع کیدو مخنیوی دی په لیکلی بڼه امیر شیرعلی خان ته وسپارله، د همدی طرحی پر بنسټ د لومړي ځل لپاره امیر شیرعلی خان  د حکومت د چلولو لپاره د حربیه، داخله، مالیه اوخزاینو لپاره وزیران مقرر کړل، او د لومړي ځل لپاره لویه جرگه منځته راغله، خو له دی امله چی پخپله سید جمال الدین افغان په افغانستان کی پاتی نه شو، نو دی اصلاحاتو هم دوام ونکړ[8]، او د ښه حکومت د تشکیل په اړه د سید جمال الدین افغاني هڅه کامیابۍ ته ونه رسیده، او د انگلیسانو د پرله پسی لاس وهنو له امله افغانستان په جنگونو کی ښکیل شو او له همدی امله وروسته پاتی شو.

**په مصر کی د استبداد پر ضد د سید هڅی:**

سید جمال الدین باندی چی کله د عثمانی خلافت په مرکز استانه کی حالات تنگ شول او د هغه وخت د شیخ الاسلام حسن فهمی افندي د غلطو نیوکو په نتیجه کی سید جمال الدین د هغه د محاکمی مطالبه وکړه نو د هغه وخت د عثمانی خلافت صدر اعظم علي باشا د سید جمال الدین څخه غوښتنه وکړه چی د آستانی څخه د یو څه وخت لپاره بل کوم ځای ته ولاړ شي، تر څو يې بیا راتگ ته زمینه برابره شي، سید جمال الدین د هند په تکل د۱۸۷۱م کال د مارچ د میاشتی په ۲۳ نیټه د آستانی څخه ووت، مگر په مصر کی د هغه وخت حاکم ریاض باشا سره د ملاقات نه وروسته، د هغه د ډیر اصرار په نتیجه کی په مصر کی پاتی شو، ځکه ریاض باشا د هغه دعلم، شخصیت او فکر څخه دومره متأثر شو چی په (خان الخلیلی) کی يې ورته کور ورکړ، او میاشتنۍ تنخواه يې ورته وټاکله، خو دی ټولو سید جمال الدین د خپل هدف څخه لیری نه کړی شو، د خپل عمر هغه برخه چی سید جمال الدین افغاني په مصر کی تیره کړه، هغه د هغه د ژوند تر ټولو مثمره برخه ښکاري، ځکه په دی وخت کی د خپلو کوښښونو ثمری ته ډیر نږدی شوی وه که د استعمار مداخله او لاسوهنه نه وی، نو

8 - د تفصیل لپاره وگوری: افغانستان در مسیر تاریخ ج۱ ص ۵۹۲، د میر غلام محمد غبار، ناشر: مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوري، څلورم چاپ، بهار ۱۳٦۸هـ ش.

شاید په مصر کی د خپلو ارزوګانو سره سم د یو حکومت په تشکیل کی بریالی شوی وی، هغه کارونه چې په مصر کی یې د استبداد پر ضد تر سره کړل په لنډه توګه په لاندی ډول دي:

**دلومړي سیاسی تنظیم بنسټ ایښودل**

په مصر کی یې لومړی سیاسي تنظیم جوړ کړ او د هغه قیادت او رهبري یې په غاړه درلوده، ددی تنظیم نوم (الحزب الوطنی الحر) آزاد ملی حزب وه، دا یو سري او پټ تنظیم وه، شعار (مصر د مصریانو دی) وه،اهداف یې دا ؤ:

1. د سیاسی دیموکراسۍ لپاره کار کول.
2. د سیاسي استبداد، او فردي حکومت پر ضد مبارزه.
3. د بهرني نفوذ او استعمار پر ضد مبارزه او له هغه څخه ازادي.

ویل کیږي چې د علمي اجتماعي او سیاسي قیادي شخصیتونو څخه دری سوه تنو ددی حزب غړیتوب درلود، دا د استبداد پر ضد د سید جمال الدین لومړۍ جدي هڅه وه[9].

**د مطبوعاتو له لاری د استبداد پر ضد مبارزه**

بله هغه وسیله چې د هغه له لاری سید جمال الدین افغان د استبداد پر ضد مبارزه وکړه هغه مطبوعاتي ډګر او وسیله وه، په دی لړ کی یې لاندی کارونه سرته ورسول:

1. د لیکوالانو بلکه د متمیزو لیکوالانو یوه ستره، قوي او لویه ډله یې د لیکوالۍ په نوي سبک او طریقه باندی وروزله، چې دا ټول د سید جمال الدین له طرز کتابت، فکر او شخصیت څخه متأثر ؤ، او هغه اهدافو ته ژمن ؤ چې سید جمال الدین د هغه د تحقق لپاره کار کاوه.
2. د ازاد او غیر دولتي مطبوعاتو د تشجیع په خاطر یې د نوو مجلو او ورځپاڼو په ایجاد او صادرولو کی کوښښونه وکړل، تر څو د استبداد پر ضد د اواز پورته کولو لپاره زمینه برابره شي، په دی لړ کی یې د بیلا بیلو شخصیتونو لپاره د مجلو او ورځپاڼو د جوازونو په اخیستلو کی مرسته وکړه.
3. پخپله سید جمال الدین افغان د (المزهر بن وضاح) په مستعار نوم د استبداد پر ضد ډیر قوي مقالات په مطبوعاتو کی لیکل پیل کړل، چې په هغه وخت کی یې دوه مقالی (الحکومات الشرقیة) شرقي حکومتونه، او بله یې (روح البیان فی الانکلیز والأفغان) وه، ډیری مشهوری شوی، د سید جمال الدین افغان

مقالاتو اهمیت او تأثیر دی حد ته ورسیده چې د هغه وخت برتانوي صدر اعظم ګلادستون (۱۸۰۹- ۱۸۹۸م) دی ته اړ شو چې د هغه مقالاتو نقد ولیکي او مناقشه یې کړي[10].

**د ماسوني محفل له لاری د استبداد پر ضد مبارزه**

چونکه سید جمال الدین په منظم شکل د استبداد پر ضد د مبارزی له اهمیت څخه آګاه او باخبره وه، او په هغه وخت کی مأسوني محفل[11] تر ډیره حده د ښه شهرت څخه هم برخمن وه، ځکه شعار یې (آزادي، ورورولي، مساوات) وه، په دی

---

[9] - جمال الدین الأفغانی موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام ص۵۲ د محمد عمارة لیکنه، طبع دار الشروق، عام ۱۹۸۸م.

[10] - جمال الدین الأفغانی موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام د دکتور محمد عماره لیکنه ص ۵۷، په دی کتاب کی سره له دی چې محمد عماره په دی رد کوي چې سید جمال الدین دی ایرانی او شیعه وي، خو بیا هم په دی غلطۍ کی پریوتی دی چې د سید د ژوند د لومړیو کلونو د حوادثو په اړه د ایرانیانو په خرافي روایت اعتماد وکړي.

[11] - مأسونیت یو ډیر سري تنظیم دی له همدی امله یې نه افکار په بشپړه توګه څرګند دي او نه یې کړنی، غربي مصادر وایي چې دا یو نړیوال تنظیم دی چې اصل هدف او موخه یې د تدین پر ضد مبارزه کول دي، او د لادینیت او علمانیت لپاره لاره هوارول دي، پخپلو محافلو کی یې څو ځله ددی اعلان کړی چې دوي به نه یوازې دا چې د متدینینونو معابد به له منځه وړي بلکه پخپله

کی د رنگ، ژبی، منطقی، دین او داسی نورو توپیرونو څخه پرته د ټولنی مؤثر خلک راټول شوي ؤ، په عین وخت کی د نولسمی پیړۍ په اتمه لسیزه کی صهیونیستي حرکت لا ایجاد شوی هم نه وه، او په فلسطین کی د صهیونستي حرکتونو خطر هم لا ښکاره شوی نه وه، له دی امله په مأسوني محفل کی د یو شمیر یهودانو موجودیت دومره حساسه مسأله نه وه څومره چی په وروستیو وختونو کی وګرځیدله، او په څومره حساسیت چی ورته اوس کتل کیږي، او په حقیقت کی یې همدا خطرناک حالت غوره کړی هم دی.

نوشاید له همدی امله سید جمال الدین په هغه وخت کی وغوښتل چی ددی تنظیم څخه د خپلو اهدافو لپاره مؤثره استفاده وکړي، نو له دی محفل سره یوځای شو، مګر کله یې چی ولیدل چی د مأسوني محفل قیادت په حقیقت کی د استعمار سره اړیکی لري، او په پټه د هغه لپاره کار کوي، او د استبدادي حکومتونو سره د سازش څخه کار اخلي نو په ډیر شدت سره یې نقد کړ، او تری جلا شو، بلکه په هغه کی یې انشعاب رامنځته کړ.

کله چی سید جمال الدین د استبداد او استعمار پر ضد خپل پروګرام په مأسونی محفل کی وړاندی کړ، او د مأسوني محفل دا ځواب یې واوریده چی (مأسونیت په سیاست کی ګوتی نه وهي، ځکه ددی په نتیجه موږ د خپل مأسوني محفل پر ضد د حکومتونو د لاسوهنی او په مأسونی محفل باندی د لاس اچونی څخه ویریږو) نو سید جمال الدین ورته وویل: ما خو ددی انتظار درلوده چی په مصر کی هره عجیبه او غریبه خبره واورم او وګورم، مګر ما ددی تصور هم نشو کولی چی بزدلي او جبن دی په مأسوني محافلو کی تر دی اندازی سرایت وکړي، چی مأسوني محفل د نړۍ په سیاست کی مداخله ونکړي، حال دا چی په دی کی د ټولنی ازاد منشه معماران[12] موجود دي، او د تعمیر هغه وسایل چی ددوي په لاس کی دي، که هغه د پخواني فرسوده سیستم د له منځه وړلو، او د صحیحی ازادۍ، ورورولی، او مساوات د عمارت د مضبوطولو لپاره استعمال نشي، او په دی باندی د ظلم، سرکښی، او تجاوز ماڼۍ له منځه یو نه وړل شي، نو بیا خو دی دداسی ازادمنشانو! په لاس د ډبرو د ټکولو یو څټکی (چکش) هم ورنشي، او نه دی ددوي د ماڼۍ کوم کنج اباد شي (بد دعاء ده)... ستاسی مأسونیت نن یواځی او یواځی د یو څو اعمالو، په مأسونیت کی د نوي غړي شاملولو پرته نور څه نه دی، دی نوو غړو ته د پخوانیو یو څو قصی اورول کیږي، داسی قصی چی انسان یې د اوریدلو څخه ستړی کیږي، او په مأسونیت کی د نوي داخلیدونکی غړي په عقیده کی خلل واردوي، ...په دی کی داسی بی معنی شیان دي چی اکثر خلک یې په مفهوم نه پوهیږي، او په دی هم نه پوهیږي چی دا ولی پکښی اینښودل شوي دي[13]).

په هغه مجلس کی چی سید جمال الدین افغان دا خبری وکړی او یو انګریز امیر هم موجود وه، ددی په نتیجه کی په مأسوني محفل انشعاب رامنځ ته شو، او جمال الدین افغانی د دری سوه وطن دوستو غړو سره د مأسوني محفل نه انشعاب وکړ، او یو شرقي محفل یې تأسیس کړ، چی د فرنسوي محفل سره یې اړیکی درلودی، ددی دری سوه کسانو څخه یې د حکومت د اعمالو د څارلو لپاره کمیسونونه ترتیب کړل چی خپل کار یې په ډیری وړتیا سره پرمخ یوړ، چی په پای کی همدی

متدینین هم له منځه وړي، عربي مصادر یې یو یهودي سري تنظیم ګڼي او وایي چی اصلا ماسون معمار ته ویل کیږي او دوي ددی سره (free) کلمه هم اضافه کوي چی معنی یې کیږي ازاد معماران، او وایي چی دا د هیکل سلیماني د معمارانو رمز دی، ددی څخه د دوي هدف دا دی چی په نړۍ د یهودو برلاسی تثبیت کړي، په دی اړه نور ډیر نظریات هم وجود لری چی دلته یې راټولول ګران دي.

[12] - اصلا د ماسوني تنظیم نوم (Free Masons) چی معنی ده ازاد معماران.

[13] - الاعمال الکاملة لجمال الدین الأفغانی ص ۵۲۱- ۵۲۲.

خلکو بیا د (احمد عرابي) په قیادت کی د راولاړ شوي انقلاب او پاڅون د مشرۍ مسؤولیت په غاړه درلوده[14].

**عوام د استبداد پر ضد راولاړول**

ددی ترڅنګ سید جمال الدین یو ستر خطیب هم وه، چی کله کله به یې یوی یوی خطبی او تقریر څو څو ساعت دوام کاوه، ددی تقریرونو په ذریعه یې عام خلک د استبداد او استعمار پر ضد راپارول، د همداسی یو تقریر په پای کی وایي:(د غفلت له خوابه را بیدار شی، د بی هوښۍ نه را پاڅیږۍ، د خپل ځان څخه د غباوت او سستۍ ګرد وڅنډۍ، د مستبدو حاکمانو سینی داسی وڅیروۍ لکه چی په خپله یوه چی خپله مځکه څیروۍ .. د نورو ملتونو په څیر یا ازاد او د سعادت څخه ډک ژوند وکړۍ، او یا هم په دی لار کی شهیدان شۍ او اجر ترلاسه کړۍ) دا ډول اجتماعات به کله کله یواځی د ښځو لپاره هم جوړیدلی چی په هغه کی به په زرګونه ښځی شریکیدلی[15].دی تقریرونو هم د استبداد او استعمار پر ضد مبارزه کی ډیر زیات رول ولوبوه.

**د مصر د حاکمیت لپاره د مناسب فرد تیارول**

د مصر د حاکم ولی عهد د سید جمال الدین په وخت کی محمد توفیق باشا (۱۸۵۱- ۱۸۹۱م) وه، مخکی له دی چی د مصر د حکومت د چارو واګی په لاس کی ونیسي همیشه به د سید جمال الدین مجلس کی حاضریده، او خپل استاذ ته به یې اطمئنان ورکاوه چی هغه په شورائی نظام یقین لري، په حکومتي نظام کی د اصلاحاتو پلوي دی، او په اسلامي هیوادونو او په ځانګړي ډول په مصر باندی د بهرني تسلط او نفوذ مخالف دی، ددی پرله پسی تاکیدونو په نتیجه کی سید جمال الدین دی نتیجی ته ورسیده چی د خپلو ارمانونو د نظام د برپا کولو لپاره د محمد توفیق باشا حکومت ته رسول اړین دي، د همدی امله پخپله سید جمال الدین او د هغه جوړ کړۍ (الحزب الوطنی الحر) ددی مطالبه وکړه چی د مصر د هغه وخت حاکم محمد اسماعیل باشا د عزل او د هغه پر ځای دی د هغه ځوی محمد توفیق حاکم وټاکل شي، په هغه وخت کی د فرنسی د حکومت رغبت هم همدا وه، هماغه وه چی سید جمال الدین د یو هیأت سره په مصر کی د فرانسې د سفیر سره وکتل او ورته یې وویل چی په مصر کی یو سیاسی تنظیم (الحزب الوطنی الحر) وجود لري او هغه غواړي چی اسماعیل باشا عزل او پرځای یې د هغه ولیعهد محمد توفیق باشا د مصر حاکم مقرر شي، او دا ځکه چی په مصر کی اصلاحات یواځی د همدی ولی عهد په لاس راتللی شي، دا لومړی ځل وه چی دا خبر په مطبوعاتو کی نشر شو او خلک د (الحزب الوطنی الحر) څخه خبر شول.

کله چی محمد توفیق باشا د چارو واګی په لاس کی واخیستلی د انګریزانو او فرانسویانو په لمسون د خپلو ټولو وعدو څخه وګرځید، او د دری میاشتو په دننه دننه کی یې سید جمال الدین په ډیر بد حالت کی قید کړ، او په ډیر توهین آمیز شکل یی له مصر څخه وشړه.

**د یو ازاد ارمانی حکومت د جوړولو تکل او ایران ته تګ**

کله چی سید جمال الدین افغانی څو کاله په اروپا کی تیر کړل، خپل مجله العروة الوثقی یې له پاریس (فرانس) نه صادره کړه او د انګلیسانو د لاسوهنو په نتیجه کی ودریده، نو سید جمال الدین د خپلو ارمانونو د حکومت د جوړولو په تکل شرق ته د تللو په فکر کی شو، نو په کال ۱۸۸٦م کی یې اراده وکړه چی حجاز ته ولاړ شي او په هغه سیمه کی چی هغه د

[14] - ددی لپاره وګورئ: جمال الدین الأفغانی موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام د دکتور محمد عماره لیکنه ص ۵۹ - ٦۰.

[15] - موقظ الشرق وفیلسوف الاسلام، محمد عماره ص ٦۰ – ٦۱.

اروپائي هيوادونو د استعمار او عثماني خلافت د نفوذ څخه ليری وي يو مستقل او ازاد شورايي حکومت قائم کړي، چی دا سيمه په نجد، قطيف او يمن باندی مشتمله وه، مگر په دی وخت کی د ايران بادشاه ناصر الدين شاه ورته دعوت ورکړ چی تهران ته ورشي او د ديموکراسۍ، تجديد او اصلاح وعده يې ورسره وکړه، سيد جمال الدين افغان په ۱۸ جنوری ۱۸۸۷م تهران ته ورسيده، خپل کار يې پيل کړ، او د استبداد پر ضد يې جبهه پرانستله چی له امله يې ناصر الدين شاه تری بدگمانه شو او سيد جمال الدين مجبور شو چی د پنځو مياشتو په دننه دننه کی د می په ۳ نيټه کال ۱۸۸۷م د ايران څخه د مسکو په لور حرکت وکړي.

بيا هم د ناصر الدين شاه په اصرار او د المانيانو په وساطت (المانيانو غوښتل چی ناصر الدين شاه د برتانويانو سره يوځای نه شي، او د المانيانو او روسانو ترمنځ وساطت وکړی شي، او ددی کار لپاره د المانيانو له نظره د سيد جمال الدين افغان څخه بل موزون څوک نه وه) سيد جمال الدين په دی وعده چی د ايران د حکومت د صدارت عظمی مسؤوليت به ورته سپارل کيږي د ناصر الدين په شديد اصرار ۱۸۹۰م کال کی بيرته ايران ته راغی، مگر کله چی ناصر الدين شاه مشروطيت ونه مانه، او هغه اصلاحات چی سيد جمال الدين يې اراده درلوده مسترد کړل نو سيد جمال الدين افغان په ډير شدت سره د ناصر الدين شاه پر ضد انتقادی ليکنی پيل کړی، ناصر الدين شاه غوښتل چی سيد جمال الدين افغان په تهران کی قيد کړي، مگر په څه حيله سيد جمال الدين افغان وتوانيده چی (مقام عبد العظيم) چی د شيعه گانو لپاره مقدس ځای وه ولاړ شي، هلته اوه مياشتی پاتی شو او د ناصر الدين شاه د حکومت پر ضد يې ليکنی او ويناگانی کولی، اوه مياشتی وروسته يې په ډير توهين سره د هيواد څخه وشاړه، او هغه داسی چی د ۱۸۹۱م کال د مارچ په مياشت کی يو پنځه سوه کسيزی د پوليسو قوه د سيد جمال الدين کور ته په داسی حال کی ننوته چی هغه مريض وه، او په سيمه کی تر گونډو پوری واوره پرته وه، پگړی يې پريوته، هغه يې لاس تړلی په بازار کی وگرزاوه، او په خر يې سپور کړ، او بيا يې د کرمانشاه په لور او له هغه ځای څخه يی د عثمانی خلافت سرحدي سيمی (قم) ته يوړ، ساتونکی ډله به يې د هر منزل څخه وروسته بدلوله ترڅو عسکر ورسره همدردي پيدا نه کړي، کله به چی يخنۍ ډير تنگ کړل، نو په لار کی به يې د يو کور دروازه وټکوله او ورته به يې وويل: دروازه پرانيځۍ موږ عسکر يو چی د يو مجرم په وړلو مکلف يو، او مرستی ته اړتيا لرو.

سيد جمال الدين چی په استانه کی وه، او هغه وخت به يې رايادوه او ويل به يې: هغه مجرم زه وم، بيا به يې ويل: زه څومره سخت جانه يم، چی دهغه سختيو په نتيجه کی هم مړ نه شوم، او د هلاکت څخه می نجات پيدا کړ!!.

خو په دی حالت کی يې هم د استبداد او استعمار پر ضد د مبارزی څخه لاس وانخيست، کله چی بغداد ته ورسيده، د آستانی څخه حکم راغی چی سيد جمال الدين په بغداد کی پری نه ږدی او بصری ته يې ورسوی، په بصره کی يې د يو شيعه عالم سيد علي اکبر شيرازی سره ملاقات وشو، د هغه څخه يې غوښتنه وکړه چی د هغه مکتوب (حجة الله البالغة وحملة القرآن) چی مشهور شيعه مجتهد محمد حسن شيرازي او په نجف، کربلاء، او سامراء کی يې نورو شيعه مجتهدينو ته ليکلی وه هغوي ته ورسوي، په دی مکتوب کی يې د شاه ناصر الدين هغه انگليس پلوي سياستونه بربنډ کړي ؤ چی شاه به د خلکو څخه پټول، او د دی علماو څخه يې په دی مکتوب کی ددی سياستونو پر ضد د قيام غوښتنه کړی وه، چی دا د شاه ناصر الدين د سياستونو پر ضد په مقاومت کی ډير مؤثر وگرځيده، د همدی مکتوب د ليدلو وروسته محمد حسن شيرازی د تنباکو د څښکلو د تحريم فتوی صادر کړه، د تنباکو قرارداد شاه ناصر الدين يوی انگليسی کمپنۍ ته ورکړی وه، د فتوی د

صدور څخه وروسته د انگلیسی کمپنۍ کار وبار په ټپه ودریده او شاه ناصر الدین مجبور شو چې تاوان یې ورکړي، او په دې توگه یې استبداد او استعمار دواړه په یوه ځپېړه ووهل.

له هغه وروسته جمال الدین افغانی لندن ته ولاړ او له هغه ځای نه یې د ناصر الدین شاه د استبدادي حکومت پر ضد مبارزه پیل کړه، په خپله مجله (ضیاء الخافقین) کی یې په پرله پسې توگه لیکنی کولی، او انگریزانو سره د هغه اړیکی یې بربنډې کړی، تر دې چې انگریزانو دا مجله وتړله، مگر بیا هم د سید جمال الدین مبارزه ونه دریده، تر دې چې په لندن کی د ایران سفیر(رستم شاه) سید جمال الدین ته وویل چې د شاه پر ضد د مبارزی څخه لاس واخله او ددې په بدل کی چې هر څه غواړی موږ یې درکولو ته اماده یو، د سید ځواب دا وه: زه له دې پرته هیڅ نه غواړم چې شاه مړ شي، خیټه یې څیري کړی شي او په قبر کی کیښودل شي.

په پای کی شاه ناصر الدین په دې وتوانیده چې سلطان عبد الحمید په دې قانع کړي چې سید جمال الدین آستانی ته راوغواړي، تر څو ټول یې د استبداد پر ضد د مبارزی څخه بې غمه شي، همدا وه چې په لندن کی ورته د عثمانی خلیفه سلطان عبد الحمید غوښتن لیک راورسیده چې سید آستانی ته راشي ترڅو د سلطان عبد الحمید سره د شرق څخه د اروپایي استعمار د دفع کولو په خاطر د (پان اسلامیزم) په مشروع کی ورسره مرسته وکړي، او د اصلاح او تجدید، او قوانینو د تدوین له لاری د مسلمانو ملتونو په بیداری او پرمختگ کی ورسره همکاري وکړي، له دې امله دا خو د سید جمال الدین افغان د زړه اواز وه نو له ځنډ څخه پرته یې دی غوښتنی ته لبیک ووایه او په کال ۱۸۹۲م کی آستانی ته ولاړ.

**د عثماني خلیفه د استبداد پر ضد مبارزه**

په پیل کی سید جمال الدین افغان د سلطان عبد الحمید په اړه حسن ظن درلود، او د هغه په سیاسی تفکر او استعداد یې پوره یقین وه، او داسی انگیرنه یې درلوده چې که سلطان عبد الحمید د اروپایي استعمار پر ضد ودریږي او نور اسلامي ملتونه یې حمایت وکړي نو استعمار ته شکست ورکول ممکن دي.

مگر وروسته دې یقین ته ورسیده چې د سلطان عبد الحمید سیاسی پوهه په عثمانی خلافت کی د اصلاح، او د ازادي غوښتونکو پر ضد استعمالیږي، او همدا هغه خلل دی چې اروپایان تری د خپلو استعماري مقاصدو لپاره استفاده کوي، د همدی امله د خپل بې ساري جرأت په نتیجه کی یوه ورځ سلطان عبد الحمید ته ورغي او ورته یی وویل: زه ددی لپاره راغلی یم چې د هغه بیعت څخه می ازاد کړی چې له تاسره می کړی وه، ځکه چې زه د هغه بیعت څخه گرځیدلی یم، تاسره می په خلافت بیعت کړی وه، او خلیفه وعده خلاف نشي کیدلی).

سره له دې چې سلطان عبد الحمید د سید جمال الدین د خوشحاله کولو کوښښ وکړ، مگر هغه د سلطان په اړه د نقد او تمسخر څخه منع نه شو، یوه ورځ سید جمال الدین افغانی د سلطان سره په ملاقات کی په خپلو تسپو باندی مشغول وه چې اوازونه یې تری ویستل، د سلطان سره د ملاقات نه وروسته ورته وویل شول چې دا کار د سلطان سره د ملاقات د ادابو مخالف دی، نو د تمسخر په شکل یې وویل: سبحان الله! سلطان معظم چې د میلونونو انسانانو په تقدیر باندی لوبی کوي او هیڅ څوک هم نشته چې پری اعتراض هم وکړي، او دا دهغه حق بولی، ایا جمال الدین ته ددی حق هم نشته چې په خپلو تسپو باندی چې څنگه یې خوښه وي لوبی وکړي![16].

[16] - الاعمال الکاملة لجمال الدین الافغانی ص ۲۴۶-۲۴۸

دا په ډېره لنډه توګه د خپل وخت د مستبدو حکومتونو پر ضد د سید جمال الدین افغان د ژوند یو ځو بیلګی وی، چی په حقیقت کی د هغه د ژوند ټول تصویر نه وړاندی کوي، د هغه د ژوند هره لحظه د شجاعت، دلیرۍ او د استبداد پر ضد د هغه د مبارزی یوه ښکلی بیلګه ده، خو د مقالی د لمنی د تنګوالي له امله یې دلته وړاندی کول ګران دي.

**د استعمار پر ضد د سید مبارزه**

د کونړ د سردرو دغه سید زاده د خپل ژوند یوه لویه برخه د استعمار پر ضد په مبارزه کی تیره کړه، دی مبارزی بیلا بیل شکلونه درلودل، غواړم په ډېرو لنډو ټکو کی ددی مبارزی یو تت انځور درنو لوستونکو ته وړاندی کړم.

**د امت وحدت د استعمار پر ضد د مبارزی لویه وسیله**

د سید جمال الدین افغان تصور دا وه چی شرقی ملتونه عموما او اسلامي ملتونه په ځانګړی توګه باید سره یو شي، ددی متعدد اهداف ؤ، ددی اهدافو څخه یو بنسټیز هدف هم د استعمار پر ضد مبارزی او مقاومت ته د امت تیارول ؤ، په دی اړه د هغه لیکنی ډېری واضح او صریحی دي، د بیلګی په توګه یې دا عبارت لولو، چی پکی وایي: (ایا موږ په دی مطمئن کیدلی شو، حال دا چی موږ مؤمنان یو، او موږ غالب او قوي ؤ، چی موږ د ذلت او بیچارګۍ سره مخ شو، او زموږ په هیوادونو او ثروتونو هغه څوک مسلط شي چی زموږ د دین پیروان نه دي، زموږ د عنعناتو تابع نه دي، او نه زموږ شریعت ته احترام لري، تر دی چی زموږ په اړه نه د کوم قسم او نه د کوم تعهد خیال ساتي؟ بلکه اصل هدف او ټوله هڅه یې دا ده چی موږ داسی فناء کړي چی زموږ وطنونه له موږ څخه خالي کړي، او بیا پکښی خپل نسلونه اباد کړي![17])

تصور یې دا وه که د مسلمانانو ترمنځ واقعي وحدت او یووالی رامنځ ته شي او یو د بل په غم غمجن شي او یو د بل مرسته وکړي نو د استعمار د ډېرو مشکلاتو څخه خلاصیدلی شي، په دی اړه وایي: ( په الله قسم که عثمانیان له دی خبر شي چی د انګریزانو په رعیت[18] په زړونو کی دوي څومره معنوي تسلط او احترام لري، او که دا معنوي تسلط دوي په عاقلانه ډول استعمال کړي نو هیڅ کله به د انګریزانو په بی ځایه تصرفاتو او ظالمانه کارونو باندی صبر کولو ته اړ نه شي، او نه به دی ته اړ شي چی د مصر د مسألی (چی هغه په حقیقت کی تر ټولو مهمه عثماني او یا هم اسلامي مسأله ده) او د هغه په څیر نورو مسائلو کی د انګریزانو له پلوه د عثمانی سلطان په حقوقو تجاوز باندی صبر وکړي[19]) له دی عبارت څخه یې اصل هدف دا دی چی باید د مسلمانانو ترمنځ دا ډول د وحدت احساس وجود ولري، تر څو وتوانیږي چی د استعمار په وړاندی د قوي او محکم دریځ خاوندان وي، او که چیرته دا وحدت وجود ونه لري نو بیا دا قوت منځ ته نه راځي.

**د استعمار پر ضد لیکنی او ویناګانی**

هغه بله وسیله چی سید جمال الدین افغان د استعمار پر ضد تری استفاده کوله هغه د سید لیکنې او ویناګانی وی، ددی لپاره مثال راوړل په حقیقت کی د هغه د اهمیت د کمولو سره برابر دی، ځکه د سید ټولی لیکنې که هغه په العروة الوثقی مجله کی وی او که ضیاء الخافقین[20] مجله کی وی، او که نوری متفرقه لیکنې وی، هغه ټولی د استعمار پر ضد دي،

---

[17] - الاعمال الکاملة ص ۳۵٦.

[18] - په عام ډول سید دلته د هند مسلمانانو ته اشاره کوی چی په هغه وخت کی د انګریزانو د تسلط لاندی ؤ، مګر ددوي ټول اخلاص او محبت او انقیاد د عثماني خلافت سره وه، دی مسلمانانو عملا ددی لپاره ډېری قربانۍ ورکړی، خو متأسفانه چی عاقلانه تعامل ورسره ونه شو.

[19] - الاعمال الکاملة ص ۳٦۸.

[20] - د سید جمال الدین افغان هغه مجله ده چی د لندن څخه یې صادروله.

همدا راز د سید هغه ټولی ویناګانی چی په مصر، ترکیه، هند، ایران او افغانستان کی یې کړي دي دا یې یوه محوري موضوع وه.

**د استعمار پر ضد د نړیوال تنظیم تشکیل**

هغه مجله چی د (العروة الوثقی) په نوم سید جمال الدین د پاریس څخه نشروله، هغه یې په حقیقت کی د هغه سري تنظیم په نوم مسمی کړی وه چی هغه په شرق کی د استعمار پر ضد جوړ کړی وه، او نوم یې ورته (العروة الوثقی) ایښی وه، کله چی په کال ۱۸۸۳م کی پاریس ته ولاړ هلته یې بیلا بیل انقلابي تنظیمونه او مؤثر شخصیتونه او مفکرین راټول کړل ترڅو د العروة الوثقی او نورو ټولنو ترمنځ د استعمار پر ضد یو نړیوال تشکیل رامنځ ته کړي، چی هغه په عین وخت کی د اسلامي امت د وحدت او همغږی لپاره کار هم وکړي.

**سیاسي هلی ځلی**

سید جمال الدین افغانی د استعمار څخه د خلاصون لپاره د هری وسیلی څخه کار اخیستی، چی په دی کی خبری اتری او سیاسی هلی ځلی هم شامل دي، د بیلګی په توګه کله چی په کال ۱۸۸۳م کی په سوډان کی د مهدي په مشری د انګریزانو پر ضد پاڅون خپل اوج ته ورسیده نو سید جمال الدین افغانی د انګلیسانو د سیاسي شخصیتونو لکه چرچل، سالسبوري، او سر درموند له خوا د سوډان د قضیي په اړه د خبرو اترو لپاره لندن ته وغوښتل شو، هلته خو لومړی ورته د سوډان د حکومت ورکولو وړاندیز وشو، چی د سید له لوری مسترد شو، بیا وروسته تری وغوښتل شو چی د یو هیأت په مشری سوډان ته ولاړ شي، سید دی کار ته تیار شو، او له دی کار څخه یې د خپل هدف ته د رسیدو لپاره د وسیلی په حیث د استفادی اراده وکړه، هغه په دی اړه داسی وایي: ( انګلستان له ما نه وغوښتل چی زه په هغه هیأت کی شامل شم چی په سوډان کی د پاڅون کونکي سره د سولی په اړه د خبرو اترو لپاره یې لیږل غوښتل، په هغه وخت د انګریزانو ټول هم وغم په سوډان کی پاڅون وه، زه هم په زړه کی دی سفر ته ډیر خوشحاله وم، ځکه زما مخ ته ددی سفر له لاری د مصر د مسألی د خدمت لاری پرانستل شوی، او د مصر د مشکل د اسبابو د علاج او هغه ته د انګریزانو د استعمار څخه د خلاصون لاری چاری پرانستل شوی، که دا هیأت سوډان ته تللی وی، نو مصر د انګریزانو د استعمار څخه ازادیدلی شو، خو د مهدي د ناڅاپی مرګ له امله دا هیأت ونه لیږل شو[21]).

**د استعمار د لاسپوڅو پر ضد مبارزه**

سید جمال الدین افغانی یواځی د استعمار پر ضد په مباشری مبارزی اکتفاء ونه کړه، بلکه د هغو خلکو پر ضد مبارزه د سید د مبارزاتو یو بل میدان وه چی د نوښت، پرمختګ، او پرمخ تللی اسلام په نوم یې خلک د انګریزی استعمار غلامی ته رابلل، په دوي کی مشهور شخصیت د هند سر سید احمد خان وه، چی د علي کر پوهنتون بنسټ ایښودونکی بلل کیږي، سید جمال الدین خپل کتاب (الرد علی الدهريين) یا (د نیچریسم (**Naturism**) په نظریاتو باندی رد) د همدی فکر د رد لپاره لیکلی دی، او د دی کتاب له لاری یې د انګریزانو سره د سر سید احمد خان اړیکي په ډاګه کړي دي.

د سید جمال الدین د رأی سره سم غربي استعمار په اسلامي هیوادونو کی د بیلا بیلو لارو چارو او طریقو نه کار اخیسته تر څو هغه اسلامي شخصیت له منځه یوسي چی د هغه مصدر قران کریم دی، او قوت یې په عقیده کی نغښتی دی، ددی

---

[21] - وموقظ الشرق و فیلسوف الاسلام ص ٦٦.

ټولو طریقو او وسائلو څخه خطرناکه طریقه دا وه او ده چې د مسلمانانو په عقائدو کې شک رامنځته کړي، ترڅو خلک د اسلامي عقیدې پرېښودلو ته اړ کړي، له همدې امله یې طبیعي مذهب چې هغه ورته دهریت وایي د انګریزانو یو خطرناکه سلاح بلله، ځکه ددې سلاح په ذریعه انګریزانو کولې شول چې د مسلمانانو د قوت رمز چې وحدت، او پخپله اسلامي عقیده ده له منځه یوسي، له همدې امله یې په دې فکر په ډېر قوت سره نقد وکړ، شاید یواځینی کتاب چې سید د کتاب په حیث لیکلی وي همدا وي[22].

### د استعمار سره د سید جمال الدین ټکر

چونکه سید جمال الدین استعمار د اسلامی نړۍ تر ټولو لوی مرض ګاڼه، او په ځانګړې توګه برتانوي استعمار، او په خپل ټول توان یې د هغه پر ضد مبارزې ته ادامه ورکوله، دا په حقیقت کې کوم رد فعل نه وه بلکه یو داسې قناعت وه چې د تفکر او تدبر په نتیجه کې ورته سید رسیدلی وه، مګر ددې ترڅنګ شاید دا هم مؤثر وي چې انګریزي استعمار هم دا تشخیص کړې وه چې سید د هغوي د ګټو لپاره تر ټولو لوی خطر دی، له همدې امله یې په هیڅ ځای کې په ارام نه دی پرېښې، او همیشه یې د هغه پر ضد دسیسې په لاره اچولې دي، شاید د انګریزانو او سید جمال الدین تر منځ لومړی ټکر په افغانستان کې رامنځ ته شو کله چې انګریزانو د محمد اعظم خان پرضد د امیر شیرعلی خان سره مرسته وکړه او هغه حکومت ته یې سقوط ورکړ چې د سید جمال الدین افغانی په مرسته منځ ته راغلی وه، له دې وروسته چې هر ځای ته سید جمال الدین رسیدلی له هغه څخه دمخه د انګریزانو دسیسې رسیدلي دي، هغه که هند دی، که ایران دی او که مصر، په دې ټولو مناطقو کې سید د انګریزانو له دسیسو سره مخ شوی دی، او دکارونو مخنیوی یې شوی او د استعماري قوتونو له خوا زوریدلی دی.

### نتیجه

سید جمال الدین افغان چې د خپل عمر په لومړیو کلونو کې په خپل هیواد افغانستان کې کله د انګریزانو د استعمار او په عین وخت کې د حاکمانو د استبداد سره مخ شو، او ددې دواړو له امله یې د خپل هیواد د پرمختګ خوب نیمګړی پاتې شو، بلکه دی ته اړ شو چې افغانستان پرېږدي او نورو هیوادونو ته سفر او هجرت وکړي، د ژوند په لومړي پړاو کې دې صدمې سید جمال الدین دې ته اړ کړ چې د اسلامي امت د وروسته پاتې والي په لاملونو کې فکر وکړي، د ژور فکر نه وروسته سید جمال الدین دې نتیجې ته ورسید چې د اسلامي نړۍ د ټولو ستونزو او په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د وروسته پاتي والي د لاملونو څخه دوه لاملونه ډېر مهم او بنسټیز دي چې هغه:

1. په اسلامي هیوادونو کې استبدادي نظامونه او حکومتونه موجودیت دی.
2. او په اسلامي نړۍ کې د استعمار او په ځانګړې توګه د انګلیسانو د استعمار موجودیت دی.

دې نتیجې ته د رسیدلو نه وروسته سید جمال الدین افغاني خپل ټول ژوند ددې دوو لاملونو په له منځه وړلو او له دې لارې د اسلامي نړۍ د پرمختګ لپاره په کار کولو کې مصرف کړ، هر ځای ته چې ولاړ هلته یې د استبداد او استعمار پر ضد بیلا بیل وسائل په لاره واچول، په هند، ایران، مصر، اروپا، او ترکیه کې یې د استعمار او استبداد پر ضد خپلې مبارزې ته ادامه ورکړه، او په دې لړ کې ورسره هغه مواصفاتو چې سید درلودل (لکه صبر، حوصله، شجاعت، د دنیاوي مال او متاع او

[22] - ددې قضیې د تفصیل لپاره وګورۍ الفکر الاسلامی وصلته بالاستعمار الغربی (دا ډېر مهم کتاب دی) د محمد البهی ص ٦٩ او له دې وروسته صفحې.

مناصبو په اړه د سید بی پروایي) ورسره ډیره مرسته کړی، اوس هم که ځوک هغه کارونه کول غواړي چی سید جمال الدین کړی دی نو همدا ډول مواصفات به په ځان کی پیدا کول ورته اړین وي.